مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبدالباري جهاني

۲۰۲۰/۱۲/۱۶

# د علامه اقبال ځلوريځي

## شپږمه برخه

| | |
|---|---|
| یک قطره باران ز ابری چکید | يو ځړ څاڅکی د باران وو پاس له وريځو څڅېدلی |
| خجل شد چو پهنای دریا بدید | خجالت سو چي لوی والی د درياب يې وو ليدلی |
| که جایی که دریاست من کیستم | ويل چيري چي څپې دي د درياب سينه کي مستي |
| گر او هست حقا که من نیستم | که دی وي نو بيا زه څوک يم له کوم ځای څخه راغلی |
| **** | **** |
| مسلمان فاقه مست و ژنده پوش است | مسلمان چي هر ځای وينې وږی تږی شوم بېکار دی |
| ز کارش جبریل اندر خروش است | جبرييل چي ورته ګوري سترګي سرې ورته په قار دی |
| بیا نقش دگر ملت بریزیم | راځی بل ملت آباد کړو راسی نوې خبنته کښېږدو |
| که این ملت جهان را بار دوش است | دې ملت ته چي زه ګورم د نړۍ د اوږو بار دی |
| **** | **** |
| غلامم جز رضای تو نجویم | زه غلام يم ستا بې خوښي بل مطلب لرلای نه سم |
| جز آن راهی که فرمودي نپویم | يوه لار دې را ښودلې زه پر بله تللای نه سم |
| ولیکن گر به این نادان بگویی | دا منم چي زه نادان يم مګر دا به سپينه وايو |
| خری را اسپ تازي گو نگویم | بل دې هر امر منمه خره ته آس ويلای نه سم |
| **** | **** |
| ساحل افتاده گفت گرچه بسی زیستم | پروت ساحل وويل خدايه زه پېږيو ته په زړه يم |
| هیچ نه معلوم شده آه که من کیستم | خو معلومه راته نه سوه چي زه څوک يم چي زه څه يم |
| موج ز خود رفته ای تُند خرامید و گفت | په مستۍ په غرغړو سو، موج را پورته له دريابه |
| هستم اگر میروم گر نروم نیستم | ويل يمه چي روان يم او که نه ځمه نو نه يم. |
| **** | **** |
| دل بیگانه از این خاکدان نیست | بېګانه زړګی مي نه دی د دې خاوري له جهانه |
| شب و روزش ز دور آسمان نیست | نه يې شپې او ورځي زيږي له ګردشه د آسمانه |
| تو خود وقت قیام خویش دریاب | ته پخپله وخت پيدا که د سجدو او د لمونځونو |
| نماز عشق و مستي را آذان نیست | چي د عشق او مستۍ لمونځ ته حاجت نسته له آذانه |



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ